دهیځ نظام الهی نیت مکتب...

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

چهارصفحه

نمبرمسلسل (۱۲۷۱) سال نزدهم شماره (۱۷۹) دوشنبه (۵) قوس ۱۳۷۵ هـ .ش (۱۵) رجب المرجب ۱۴۱۷ هـ . ق (۲۵) نومبر ۱۹۹۶ م

به اساس گزارش روزنامه واشنگتن پست :

امریکا میخواهد بعضی مراکز تربیت نظامی را در افغانستان بمباران نماید

عملیات مستقیم نظامی برای امریکا مشکلات بزرگ سیاسی درقبال خواهد داشت

راولپندي - ٤ قوس :

روزنامه انگلیسی زبان واشنگتن پست دریکي از شماره هاي اخیرش خبري رادرمورد برخي اقدامات ومصروفیت هاي طرح شده سي، آي، اي (اداره استخباراتي امریکا) درقبال قضیه افغانستان منتشر ساخته است .

روزنامه طي گزارش تحقیقاتي خویش ادعاکرده که امریکاقصد دارد برکمپ هاي تروریستي درداخل افغانستان حملات هوایي انجام دهد، جاییکه بگمان اغلب «عامل کانسي» درآنجا مخفي مي باشد .

ازتلاش هاي اداره جاسوسي امریکا طوري استنباط مي شود که عامل کانسي درقضیه قتل دوافسر دستگاه استخباراتي واشنگتن ملوث مي باشد.

براساس نوشته روز نامه نراي وقت روزنامه امریکایي نگاشته که اداره کلنتن سعي دارد تصمیم نهایي خودرا درمورد حملات هوایي برکمپ هاي افغانستان اتخاذ نماید. « جان دیوتچ » رئیس اداره جاسوسي امریکا دربوفتشون جارج تاون اظهارداشته که طرحي باهدف استعمال قوه

بقیه درستون «۲» صفحه «۴»

الهي لارښوونې

الم

وپې ويل : اي آدمه ! خبرتي کړه په تومونونې . نوچې خبرتي کړل په نومونونې وئي ويل : تاسوته ما نه وو ويلي چې يقيناً زه دآسمانواوځمکې په غيب (پټوخبرو) ښه پوهېږم اوښه پوه يم په هغه څه چې ښکاره کوي ئي اوپه هغه څه چې (واست) پټولومو .

اوموويل : اي آدمه ډيره شه ته اوجوړه (ښځه) دي پدې جنت کې نوله هغه نه چې غومره اوڅه وخت غواړي وخوري اودې وئې ته مه نژدې کېږئ که نه نو ظالمان به شې . بيا شيطان له هغه نه وښيوول نوله هغه څه نه ئي وايستل چې په کې ول . وموويل کوزشې يوه بل سره دشمن . او په ځمکه کې تاسولره تم ځاي دي اومتاع تريوې مودې پورې بيا آدم (ع) لمرخپل پالونکي (رب) نه داسي کلمي ترلاسه کړي چې د په همدې سره » الله (په خپل رحمت اوبخښنې سره) پده راوګرځېدو ، بيشکه چې دي همدا دي توبه منونکي او پيرزوينې خاوند دي .

جنگ دربادغیس شدت گرفت

قلعه نو - ٤ قوس :

درگیري میان نیروهاي طالبان وجنبش ملي درولایت بادغیس جریان داشته واهالي بیدفاع منطقه منازل شان را به قصد مناطق امن ترك مینمایند .

براساس گزارش خبرگزاري ها بعداز سقوط طیاره جت جنگنده جنبش ملي در ولایت بادغیس درگیري میان طرفین شدت بیشترگرفته طرفین مدعي پیروزي برجانب مقابل اند .

بقیه درستون «۶» صفحه «۴»

سازمان کنفرانس اسلامی خواستار مساعی کشورهای منطقه برای حل بحران افغانستان شد

تهران - ٤ قوس :

معاون سرمنشي سازمان کنفرانس اسلامي ازتلاش هاي ایران جهت بازگشت صلح وثبات به افغانستان اظهارقدرداني نمود .

براساس گزارش « ارنا » وي دردیداري باعلاوالدین بروجردي معاون وزارت خارجه ایران که صبح روز گذشته صورت گرفت، ابراهیم بکر معاون سرمنشي

بقیه درستون «۲» صفحه «۴»

کاروان موادغذایی به افغانستان درنزدیکی تورخم متوقف شد

تورخم - ٤ قوس :

ایالت سرحدي شمال غربي پاکستان برانتقال مواد خوراکي ازطریق سرحد تورخم به افغانستان قیودات شدید وضع نموده است .

مطابق گزارش منابع پاکستاني درپشاور یك کاروان شامل بیش ازصدعراده لاري حامل مواد خوراکه که ازپاکستان بسه صوب افغانستان درحال حرکت بود در نزدیکي تورخم توسط مسئولان سرحدي پاکستان توقف داده شده است .

بقیه درستون «۶» صفحه «۴»

ازجانب جمعیت العلمای اسلام افغانستان محفلی اتحاف به روح مولانا چترالی دایرگردید

پشاور - ٤ قوس :

مراسم اتحاف به روح مرحوم شیخ القرآن والحدیث مرحوم مولانا عبدالرحیم چترالي روزپنجشنبه گذشته دردفترمرکزي حزب اسلامي درنصرت مینه برگزارشد .

خبرنگارشهادت ازنصرت مینه گزارش میدهد دراین مراسم که ازطرف جمعیت

بقیه درستون «۶» صفحه «۴»

باید ملت خپل سرنوشت په خپل لاس کی واخلی

په اوسنی بنه کی دختیجان ائتلاف هماغه دجبل السراج ائتلاف دی په دی تفاوت چی هغه وخت په کابل کی کمونستان واواوس طالبان دی

مونږ پوهیدو چی دکابل دنظام ادامه ممکنه نه ده ، که طالبان نه وای نو په طبیعی مرګ هم مړ کیده

دنظام دننه ځینو خاصو حلقوغوښتل چی حزب تضعیف او رول یی له منځه ولاړشی

کله چی قوتونه جبل السراج ته په شاشول زمونږ نظر دا و چی باید پرینبودل شی چی جنبش اوطالبان سره مخامخ شی

طالبان باید خپل سیاست بدل کړی په اوسنی سیاست سره خپلی ریښی په خپل لاس قطع کوی

دپنجشیر له خولی ترخیرخانی پوری چی دطالبانو په خلاف څه شوی داد ولس اقدام و،که بی بی سی او امریکا غږ له چاقهرمان جوړوی هغه بیله خبره ده

ماهیڅکله نه دی ویلی چی زمونږ حکومت یو قانونی حکومت و بلکی دضرورت په اساس رامنځ ته شوی و

ښه به داوی چی ووایو یو حل بیا په افغانستان کی دبهرنیو طاقتونو دکشمکش اوریه بلیدو دی نه دقومی ، سمتی او ژبنیو جګړو

متاسفانه جمعیت خان ډیر مضطر ګنې اوپه همدی وجه یی دهرنوع شرایطو منلو ته غاره ایښی ده حال داچی دغسی فیصلی دسیاسی انتحارمعنی لری

پاتی «۲» مخ «۳» ستون

دحزب اسلامي دبهرنیو اړیکو مسئول له «ابراهیم بکر» سره وکتل

حزب اسلامی په هیواد کی دعاجلی سولی په لار کی دهرډول قربانی نه سرنه غړوی

غیرت بهیر

په جاکارتا کی د O.I.C په راتلونکی غونډه کی به دافغانستان دکرسی سرنوشت معلوم شی

غالب ګومان دادی چی پدی سازمان کی به دافغانستان کرسی خالی پاتی شی

اسلام آباد - دقوس ٤ مه :

دحزب اسلامي افغانستان د بهرنیو اړیکو مسئول ډاکترغیرت « بهیر» پرون داسلام آباد په « میرټ» هوټل کې داسلامي کنفرانس سازمان (OIC) دعمومي منشي له مرستیال اودافغانستان لپاره ددې سازمان دځانګړي استازې ډاکتر ابراهیم « بکر» سره وکتل .

په اسلام آباد کې دحزب اسلامي دبهرنیو اړیکو ددفتر یوه مسئول شهادت

پاتي «٤» مخ «٦» ستون

هیڅوک حق نلری بی نظیربوتو یا بل پاکستانی په سیاسی فعالیتونو کی له ګډون څخه محروم کړی

نوازشریف

اسلام آباد - دلیندۍ ٤ مه :

هیڅوک حق نه لري دپاکستان پخواني صدراعظمه بې نظیربوټو او یا بل هرپاکستاني په سیاسي فعالیتونو کې له ګډون څخه محروم کړي .

داخبرې دپاکستان دمسلم لیګ دګوند مشر میانوازشریف په یوه خبري کنفرانس کې په ډاګه کړې او ویلې یې دې چې موقت حکومت بایل هیڅ قدرت دداسي تصمیم دنیولو حق نه لري .

دخبري منابعو دریوټ په اساس دنوازشریف دااظهارګندونې دځینو

پاتي «٤» مخ «٣» ستون

دعربي اماراتو ګواښ:

ایران دفارس خلیج په دریو ټاپوګانو کی تهاجمی وسلی ځای پرځای کوی

دوبی - دلیندۍ ٤ مه :

عربي متحده امارات وايي چې ایران دفارس خلیج په دریوو جنجالي ټاپوګانو کي تهاجمي وسلې ځاي پرځاي کړي چې دخلیج نورهیوادونه تهدیدوي .

دعربي اماراتو درادیودریوټ په اساس ددغه هیواد دبهرنیوچارو وزیر تیره ورځ په ابوظبي کې دااخطاریه خپره کړي چې ایران په تیره اوني کې په سیمه کې بیاپوځي مانوروته ادامه ورکړي وه .

هغه وویل چې ایراني وسلې دولوي

پاتي «٤» مخ «١» ستون

نظامیان مصروف طرح پلان جنگ اند ومردم بیدفاع درجستجوي راه فرار؛بنابرین براي اعمار مجدد کشورنه فرصت مساعد است ونه کسي بیکار .

درو‌ضعیت کنونی کشور :

مردم بی دفاع آسیب پذیرتر از جناح هاي متخاصم اند

بن بست جاري حاکم به جبهات جنگ میان طالبان وائتلاف احمدشاه مسعود وجنرال دوستم بیشتر به ضرر مردم بلاکشیده افغانستان بوده وتداوم آن برمشکلات طاقت فرساي مردم مي افزاید .

روزنامه فرانتیرپست سرمقاله شماره جمعه ۲۲ نومبر خودرا به همین مطلب اختصاص داده که ترجمه دري آنرا میخوانید.

طالبان مدتي را درکابل سپري کردند ولي جهانیان حکومت آنهاراکه ازافراد خودتشکیل داده اند هنوزبه رسمیت نشناخته اند .

این موضوع مایه ورشکستگي وانفعال آنهابحساب میآید . درروز هاي اخیر شاهد بودیم که رهبري طالبان بخاطر به رسمیت شناختن حکومت شان هیئت هایي را به

بقیه درستون «۵» صفحه «۴»

طالبانو دکابل په شمال کی دجګړی لومړی کرښه ماته کړه

دګلدری - میربچه کوټ اوسرای خواجه سیمی نیول شوی

دواړه لوری دیویل پرسنګرونو ددرنو وسلو ډزو ته دوام ورکوی

کابل - دقوس څلورمه :

دکابل په شمال کې دجګړې له محاذونه نوې ترلاسه شوې رپوټونه وايي چې دژاړه سړك په امتداد دغي خونړې جګړې په ترڅ کې چې په تیروه‌ووادنیو کي یې مثاله ګیل شوې ، طالبان پدې توانیدلي چې دجګړې لومړې کرښه ماته کړې او دګلدرې ، میربچه کوټ اوسراي خواجه سیمې ونیسي .

درپوټ مطابق دواړه خواوې دیویل پرسنګرونو ددرنووسلوډزې کوي او جګړه روانه ده .

دکابل په شمال کې دجګړې عیني شاهدان وايي چې جګړه هغه وخت سخته

پاتي «٤» مخ «٤» ستون

کار بازسازی شاهراه کابل قندهار آغازشد

کابل - ٤ قوس :

کاراعمار مجدد شاهراه کابل - قندهار باسخنراني ملامحمد حسن یکتن ازرهبران اداره طالبان درکابل آغازگردید .

افتتاح بازسازي این سرك باتلاوت آیاتي چند ازقرآنکریم آغازشده، سپس

بقیه درستون «۱» صفحه «۴»

(۱۲۰۰) تن مواد خوراکه به شهریان کابل توزیع شده است

اداره پروګرام غذایی جهان برنامه توزیع غذا به شهریان کابل را در فصل زمستان تنظیم میکند

کابل - ٤ قوس :

درحالي که اوضاع مبهم ومتشنج وسرماي شدید زمستان زندگي شهریان کابل راتهدید مي کند ، اداره برنامه غذایي سازمان ملل متحد اعلان داشته که این موسسه پروګرام چګونګي توزیع مواد خوراکي به شهریان نیازمند کابل را تحت غور وبررسي قرارمي دهد .

مسئولان پروګرام غذایي سازمان ملل متحد درکابل مي ګویند که ادارات

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

په بوسنیاکی د (۱۵) اسلامی هیوادونو دوه ورځنی غونډه پای ته ورسیده

سرایوو - دلیندۍ ٤ مه :

داسلامي هیوادونو داستازو دبوسنیا په مرکز سرایوو کې دوه ورځنۍ لیك په خپرولو سره خپل کارپاي ته ورساوه .

دنړیوالو خبري آژانسونو درپوټ په اساس په دغه پریکړه لیك کې په ټینګه کې ګډون کونکو ۱۵ اسلامي هیوادونو ددیټون دسولي دتړون دعملي کیدو په لاره کې په موجودوستونزو باندي دغورکولو، ددغه تړون په عملي کیدو په تیره بیادمهاجرینو په ستنیدو اودصربي

پاتي «٤» مخ «١» ستون

مسکو نتایج کنفرانس سازمان ملل درمورد افغانستان را مفید خواند

مسکو - ٤ قوس :

همزمان باتشدید وخامت اوضاع متشنج وناآرام درافغانستان یك سلسله جلساتي درخارج راجع به بررسي وضعیت کنوني کشور منعقد شده که علت آن نګراني وعلاقمندي جامعه بین المللي درقبال مسایل وموضوعات موجود دراین کشورمي باشد .

وسایل ارتباط جمعي مسکو درمورد تشکیل کنفرانس سازمان ملل متحد که هفته ګذشته درنیویارك مقر این سازمان باهدف بررسي اوضاع وحالات افغانستان تدویر یافته بود، تبصره نموده ، تدویر کنفرانس تهران وسازمان ملل راګام مثبتي بسوي هم آهنګي مواضع کشورهاي

بقیه درستون «۳» صفحه «٤»

جنرال دوستم طالبان را فریب داد

اسلام آباد - ٤ قوس :

امضاي معاهده آتش بس میان جنرال دوستم وطالبان درنتیجه مداخلات روسیه وهند سبوتاژ ګردید .

روزنامه اردوزبان دیرتراژ « نواي وقت » چاپ راولپندي به نقل ازمنابع پاکستاني ګزارش مي دهد که قراربود جنرال دوستم بتاریخ (۱۳) اکتبرسال جاري مسیحي وارد اسلام آباد شود ومعاهده آتش بس بارهبران طالبان را امضا کند . اما بتاریخ دهم اکتوبر جنرال دوستم موافقت نامه نظامي رابااحمدشاه مسعود قوماندان مقتدر پروفیسور رباني برعلیه طالبان امضا کرد .

درنتیجه تلاش هاي سیاسي هیئت عالي رتبه پاکستاني بریاست نصیرالله بابر بموبرداخله حکومت برکنارشده پاکستان طالبان وجنبش ملي بتاریخ ۲۷ دسامبر آمادګي خودرا براي آغاز مجدد مذاکرات وانفاذ آتش بس سراسري در افغانستان

بقیه درستون «۲» صفحه «٤»

دمحمد شولاست مرسل یا مستقیم
تابروم مکر ... شهادت ...

شهادت

ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مـــؤســس : انجنیرحکمتیار
نـــاشـــر : ریاست ارشادوفرهنگ
تحت نظر هیئت تحریر
تـــلیفـــون : (۲۶۲۴۸۷)
آدرس پستی : ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

داستاذ «رباني» هڅه...!

څو ورځي دمخه ددولت رئیس استاذ رباني په پاریس کي وویل چي « طالبان دمخدره موادو په قاچاق کي ملوث دي، دبشرحقوق تریښولاندي کوي او دابه دامریکا ډیره ناوړه اشتباه وي چي طالبان دیوه ملي قوت په توګه وپیژني او وریاندي حساب وکړي ...»

دمحترم استاذ دداډول څرګندونوهدف بیخي واضح دي او هغه داچي غواړي طالبان دغربیانو په نظرونوکي دیوه منفورقوت په توګه وښئي . غرب ئي په وړاندي حساس کړي، اوطالبانوته ئي له نړدي کیدومنع کړي .

دسیاست له عام رواج سره سم استاذرباني کولاي شي دخپلومخالفینو پـــه خلاف ذهنیتونه راوپاروي ، دخپلو مخالفینو منفي اړخونه عـــام منظرته راوباسي، تحلیل اوتشریح ئي کړي، حتي لوي ئي کـــړي او خطرناك ئي وښیي « البته موږددنیا » دمروج سیاست خبره کوو هغه سیاست چي متاسفانه داستاذرباني اوطالبانو په شمول ئي زموږ نور ډیرهم کوي ..کنه داسلامي سیاست روح اوتقاضا خوبل شي دي، هلته خو دمخالفت اودښمني لپاره مشخص معیارونه اوحدودشته . هلته خودبهتان ، غیبت ، اواخلاقو، عفت په شان مفاهیم او موازین مطرح دي. هلته خوسیاست دلمانځه او روژي پــــه څیرعبادت دي چي مقدس شرایط اومقدسه طریقه غواړي ...»

موږدطالبانو دمدافع وکیلانوشیوه هم نه غوره کوو چي ووایو داستاذ داخبري بي بنیاده اوناسمي دي. زموږ هدف دادي چي ووایو زموږ دملت شرایط نوردي ، زموږ دهیواد فاجعه ډیره درنده اووحشتناکه ده، زموږ ولس دقیامت ترامتحانونو لاندي دي، زموږ سرنوشت بل څه غواړي، کومه طریقه چي استاذ غوره کړي داډیره اوږده ده ، ډیره موښله شوي اوزړه ده ، اوترټولو مهمه داچي ازموېله شوي ده ، بل چاهم نه په خپله استاذدخپلو پخوانیومخالفینویه خلاف تجربه کړي ده . زموږ هیڅ مشکل ئي نه دي حل کړي، داستاذ « رباني » او جمعیت ئي هیڅ ستونزه نه ده حل کړي، البته دابیله خبره ده چي که څوك داوروټو، په منځ کي ، داعتراضونواوبدنامیویه منځ کي اوبالاخره دمرګونو اوتراژیدیو په منځ کي دڅلور کلونو هسي په نامه اقتدارد‌خپل مشکل حل ګڼي .

موږفکرکوو چي ددغسي تلاشونو په ځاي چي دغرب توجه استاذ وراوروي ، له طالبانو ئي زړه تورکړي، اوبیا داجریان دده داقتدار په اعاده کي مرستندوي واقع شي نوري ډیري لاري شته چي بایـد وریاندي کاروشي، اوپه نتیجه کي ئي دټولو لپاره یــو آبرومند حل راوځي اوپه خیرزموږ دمظلوم ولس لـــه سرنوشت نه دروانو فاجعو پیخول ورټول شي .

باید ملت خپل سرنوشت په خپل لاس کې واخلي

څوورځې دمخه په اسلام آباد کې دحزب ددفتر مرستیال عبدالصبور شلګري دحزب له امیر وروو «حکمتیار» سره دشهادت لپاره په بغلان ولایت کې یوه مرکه کړي چي متن ئي دخپلولوستونکومخې ته ږدو :

پ : انجنیرصاحب دکابل دسقوط عوامل څه وو، آیا تاسي دي پیښي ته پیشبین وئ؟

ح : الحمدلله وکفی والسلام علی عباده الذین اصطفی وبعد :

: موږ لاډیردمخه ګومان کولو چي ددي نظام بقا په دغه حالت کي ممکنه نه ده اوله مسئولینوسره موږ په دي باندي مسلسل بحث کړي ورته ویلي مودي چي که تجدید نظرونکړو لازم

> موږ لاډیردمخه ګومان کولو چي ددي نظام بقا په دغه حالت کي ممکنه نه ده اوله مسئولینوسره موږ په دي باندي مسلسل بحث کړي ورته ویلي مودي چي که تجدید نظرونکړو لازم اصلاحات رانه ولو او درژیم دسقوط عوامل ختم نکړو دبقاله پاره ئي زمینه ، شرایطو اوعوامل برابرنکړو خامخا دانظام سقوط کوي براځي دانه چي طالبانویه لاس بلکه په خپل طبعي مرګ مري .
> په دي خاطرموږدسقوط په نتیجه کي له یوي داسي پیښي سره چي تصور مونه کاوه نه یو مخامخ شوي . واقعیت دادي چي دکابل نظام ډیر په اسانه ، ډیرژر دټولو هغوکسانو دتصورخلاف چي درژیم دمتن او عمق نه خبرنه وو سقوط وکړ

اصلاحات رانه ولو او درژیم دسقوط عوامل ختم نکړو دبقاله پاره ئي زمینه ، شرایط اوعوامل برابرنکړو خامخا دانظام سقوط کوي براځي دانه چي طالبانویه لاس بلکه په خپل طبعي مرګ مري .

په دي خاطرموږدسقوط په نتیجه کي له یوي داسي پیښي سره چي تصور مونه کاوه نه یو مخامخ شوي . واقعیت دادي چي دکابل نظام ډیر په اسانه ، ډیرژر دټولو هغوکسانو دتصورخلاف چي درژیم دمتن او عمق نه خبرنه وو سقوط وکړ او اوس چي څوك داسي فکروکړي چي دایواځي دبهرني مداخلي په نتیجه کي نسکورشوي دابه لوېه اشتباه وي داصحیح ده ، بهرني مداخلې شته بهرني قوتونه داغواړي چي افغانستان کي جنګ ادامه وکړي ، سوله اوثبات اواستقرار موجودنه وي ولي واقعیت دادي چي که درژیم دومره ژر، فوري اوآسانه سقوط عوامل ټول داخلي وو .

اوکه وغواړو چي عوامل ئي حساب کړو ویلي شو چي دنظام نشتوالي ، دظوابطو او اصولو عدم مراعات او داچي نه ماموریه ملکي اداراتو کي راضي ؤ، نه مجاهد چي باید ددي نظام نه ئي دفاع کړي وي، نه ئي معنوي انګیزه درلودله ، نه مالي، ماموروته دومره معاش ورکول کیده چي دورځي فقط دري ډوډي دځان اوکورني لپاره وریاندي برابرولاي شواي . دمجاهد په نامه چي قومندانانوته کومي پیسي ورکول کیدلي هغه په بنګلو، آخرین ماډلي موټرو، افسانوي اواشرافي ژوند مصرف کیدلي مجاهد محروم ؤ په دي ترتیب ددفاع لپاره چاانګیزه نه درلودله همداوجه وه چي پرته له څومحدودوګروپونوچي هغوي جنګ کړي نورجنګ ته تیارنشول .

دحزب له قوتونونه هم لکه څنګه چي مناسب وه متأسفانه استفاده ونشوه، ددي جګړي مقابله باید په پکتیکا کي شوي واي، په خاحیوکي ، اوازوه کي شري واي ولي دنظام دته حینوخاصوحلقو داغوښتل چي هلته دي همداحالات راشي ، حزب تضعیف او رول ئي له منځه ولاړشي، که په دغوولایتونو کي دحزب دیوه ولایت قوت هم په کار لویدلي واي اوضاع اوسني بڼه نه غوره کوله ، ولي متأسفانه دحزب له قوت نه څنګه چي مناسبه وه نه په دي ولایاتو کي استفاده وشوه نه په کابل کي . زموږ یومحدودشمیر قوتونه کابل ته داخل شول په هغو باندي هم حیني کسان راضي نه وو، دغسي ډیرنورعوامل وو چي سړي کولي شي حساب ئي کړي .

دجنګ دسوق اواداري لپاره یوقوي محل دقوماندي چي له هغه سره صلاحیت وي، په اوضاع مسلط وي دحالاتو نه خبروي ، ټول قوتونوته درك کړاي شي ټول قوتونه اداره کړي شي. داسي محل دقوماندي نه و.

مسلسل موږ په دي تاکید کړي چي محاذونه وویشلي شي دهرمحاذ لپاره بیل مسئول کس اوشورا جوړه شي هغه ته کامل واك اوصلاحیت وسپارلي شي بیادي محاذونو اوساحومسئولین په ګډه کیني ددي ته نظامي شورا جوړه شي اوټول نظامي صلاحیت همدي شوراته ورکړل شي، بیا دجنګ سوق اواداره هم دهمدي په غاړه وي که شکست واقع کیږي دهغه مسئولیت هم دهمدي شورا اومسئولینویه غاړه وي اوس که ولایتونه سقوط کوي داسي مرجع نشته چي تري پوښتنه وشي چي ولي مسئوله مرجع معلومه نه ده متاسفانه جنګ په ډیرضعیف شکل اداره کیده اوترپایه پوري یوقوي محل دقومندي جوړنشو دغسي زموږ اشتباهات دشکست اصلي عامل وو اوباید په خپلو اشتباهاتو اعتراف وکړو، ډیرناپوه کسان په خپلو اشتباهاتو داعتراف په ځاي نورمتهم کوي . دسقوط زیات داخلي عوامل وو، سیاسي ، نظامي، اداري اویوقسمت ئي ماعرض کړ .

پ : انجنیر صاحب ! تاسي دعقب نشیني تصمیم څنګه ونیوه اواوسني حالت اووضع څنګه ارزیابي کوي خصوصاً دحزب اسلامي حالت !

ح : دوتلو فیصله هلته وشوه چي ددفاع خطوط یویه بل پسي مات شول. که څه هم ډیروته غیرمترقبه وه هیچاګمان نه کولو چي په دومره آساني شاید خطوط یویه بل پسي مات شي، مخصوصاً اطمینان په ورکول کیده چي خطوط مستحکم دي. تدابیر نیول شوي اوس وضع ښه ده دهر خط په ارتباط په دي خاطر وتل غیرمترقبه وو اوما حساسوخلکوضعیت په خپله درك کولي شو چي څه به واقع کیږي . له سروبي نه دقوتونو په شاکیدو نوریه عسکري حالاتوباندي یوه کسانوکي ددي امیدواري نه وه پرې پسي چي داقوتونه دي وتوانیدلي شي چي په کابل کي ، په دي خطوطو کي دفاع وکړي . په هرصورت داانتخاب واقع شو .

کله چي قوتونه جبل السراج ته ورسیدل زموږ مشوره ټولوته داوه چي داقوتونه چي اوس ئي روحیه ماته ده اوستري اوستومانه دي دولت هم نسکورشوي اوس په چاریکاراودي حایوکي هغوي مقاومت نشي کولي ښه داده چي په منظم ډول داقوتونه پنجشیرته ننوحي اوپنجشیر خوله وتړله شي، سرك تخریب شي، یوڅه وخت هلته مقاومت وشي اوپریښودل شي چي دطالبانو قوتونه دسالنګ طرف ته مخکي لاړشي . وګورو چي څه واقع کیږي ، جنبش اوطالبان په خپلومینځونوکي روغه جوړه کوي جنګ کوي او داقوتونه په پنجشیرکي یوڅه وخت آرام شي وضعیت روښانه شي، ستوماني ئي ووحي نوي تصمیم ونیسي داسي حالت کي چي حیني ډیرمشوش وو چي په پنجشیرکي به هم شاید مقاومت ونشي کړاي ولي موږ ویل چي که څوورځي هم هلته مقاومت وشي وضعیت بدلیږي ، طالبان راغلل، سریع مخکي ولاړل شاته ئي لازم تدبیرونه نه وو نیولي، برخورد ئي له خلکوسره تونډو

> ایران ته زموږ مشوره داده چي هغوي هرڅه کوي، تیري تجربي تکرارنکړي دافغانستان اجتماعي جوړښت اوواقعیتونه مراعات کړي اوهغوي هم ددغسي یوي پروسي ملاترړوکړي چي ټول طرفونه خپلو مینځونوکي کښیني یوعبوري حکومت جوړ کړي او ورووسته انتخابات وشي .

اوخلك ئي متحریك کړل دهغوي په خلاف مقاومت پیل شو . پاتي مجاهدینو چي دهغوي داغلط برخورد له خلکوسره ولید

هغوي عملیات پیل کړل اویه دي ترتیب طالبانو ضربه ولیدله . او له پروان نه وتلوته مجبورشول ، دطالبانویه باب باید

عرض کړم کوم سیاست چي هغوي غوره کړي په دي سره جنګ نشي ګټلي اوکه جنګ وګټي پرملك حکومت نشي کولي .

هغوي خپلي ریښي په خپل لاس قطع کوي، که فرض کړو طالبان دخپل قوت په زورنه ، بلکي دخپلومخالفینو داشتباهاتو له امله په اوضاع مسلط هم شي هغوي له خپل اوسني سیاست سره دوېري مودي لپاره نشي پاتي کیداي .

پ : انجنیرصاحب څه موده د مخه چي په سالنګ کي یونوي ائتلاف وشو ددریو ارخونو ترمینځ اول داچي داولي دري ارخیزو اوحزب اسلامي حیني نورو جهادي ارخونویه دي کي ګډون نه درلود اوستاسو په نظر ددي ائتلاف اصلي اهداف څه دي!

ح : اوس خویه دي اوسني بڼه کي دائتلاف همغه دجبل السراج مخکني ائتلاف دي په معمولي تفاوت اوتوپیرسره توپیرداؤ چي هلته په کابل کي کمونستان وو قدرت ئي دکمونستانو دیوي برخي په لاس کي ؤ اودنجیب په خلاف ئي کودتاکړي وه او په هغه ائتلاف کي ددوي فعاله ونډه وه دوي ته ئي هم بلنه ورکړه فقط دومره فرق دي او اوس کابل دطالبانو لاس کي دي نور داائتلاف همغه دجبل السراج ائتلاف دي که څوك ګمان وکړي چي په دغسي ائتلاف کولو سره دافغانستان مسئله حل کیږي اشتباه کوي . موږ ته په دي ائتلاف کي دګډون بلنه راکړي شوي خوموږ په هغه کي دبرخي اخیستلونه معذرت وغوښت .زموږ عقیده داده چي دمسئلي حل پدي کي

دي چي ټول طرفونه صادقانه مذاکراتوته کیني په یوموقت حکومت توافق وکړي دي حکومت ته قدرت انتقال شي اوبیا انتخابات ترسره شي دمسئلي حل صرف همدا دي نه داچي یویه دي بهرني قوت تکیه وکړي اودهغه دوسلو په زور باندي کابل اشغال کړي او بیا افغانستان دحکومت کولو اوحریفانودټکولو خوبونه وګوري اویل هغه ائتلافونه چي دغسي دپردیو په اشاره جوړیږي او پردیو مرستوباندي متکي وي هغه دافغانستان مسئله نشي حل کولي

پ : انجنیر صاحب لکه تاسو چي وویل زموږ معلومات هم همدادي چي دشمالي په سیموکي ولس اقدام کړي له بهرنه ورته هیڅ نوع پروګرام نه دي ورکړي شوي هلته داائتلاف هیڅ نوع پروګرام نه دي عملي شوي اوداچي مخکي تاسي وویل عامل دشکست داؤچي کابل کي دټولو تنظیمونو اوجهادي ارخونو ترمینځ یومشترکه قومانده چي دټولو افرادپه کي ونډه واخلي او ټولوته دقناعت وړوي وجود نه درلودیو عامل دشکست همداو اوفعلاً هم زمایه نظرچي همدغسي یوه اداره وجود نه لري همغه پخواني شکل باندي اداره

چي تصوري اداري ده اوس په همغه پخواني شکل باندي تصورکیږي اوهمغسي جوړه شوي ده آیا همغه مشکلات به دوباره بیرته تکرارنشي !

ح : واقعیت دادي چي د پنجشیرله خولي نه نیولي ترخیرخانې پوري په دي ټوله منطقه کي چي څه شوي دي دا دولس داقدام په شکل کي وو دطالبانو له اشتباهواو روش دخلك حوریدل پس له هغه ئي . قیام کړي خیلي منطقي ئي آزادي کړي دي، په طالبانوئي حملي کړي په دي کي موږ ته حقایق معلوم دي دهیڅ تنظیم هیڅ نوع برخه نه وه واقعاً داچي بي بي سي او امریکا غږ له چا قهرمان جوړوي بیله خبره ده واقعیت همدادي اوداهم یوحقیقت دي چي هغه زړي تجربي بیا تکرارول ممکن نه دي چي څوك به بیا کابل ته حتي اوبیا به ئي اشغالوي داممکن نه ده اوس ددي چانس هم ختم شوي ګمان کوم له هرڅه، چاسره چي دغسي په زوو دنورو دمنطقو... دنیولو خوبونه ګوري عین معامله به ورسره کیږي . په پروان کي چي له طالبانو سره کوم څه شوي ترهغي به له دوي سره په شدت کیږي شاید داقوتونه تیر شي خودبیرته وتلو غم به هم کړي طالبان خو هم تیر شول بیرته وتلو غم ئي نه و کړي اوچاره ئي نه وه سنجولي . دي قوتونوته زما مشوره همداده چي دادرك کړي چي تګ آسان دي خوبیرته راتګ ګران .

واقعیت دادي چي مسئله په دغسي ائتلافونوباندي نه حل کیږي همغه تیرو تجربوپه شان بیا که څوك په دالکرکوي چي کابل به نیسي بیا به په اوضاع مسلطه وي ددي امکان دتل لپاره ختم شوي .

پ : انجنیر صاحب ! ستاسي په نظر دپخواني دولت اوحکومت دمشروعیت دلائل اوس هم پرځاي دي !

ح : موږ هیڅکله نه دي ویلي چي داحکومت یومشروع اوقانوني حکومت و، دضرورت په اساس جوړشوي یو حکومت ؤ بله چاره نه وه اونوروته مویلنه ورکوله اوغوښتل مو چي دامحور شي دمذاکري او دروغي جوړي لپاره نور هم راشي په دي کي برخه واخلي اوجګړه پاي ته ورسیږي . سوله تأمین شي اوانتخابات وشي اوس هم زه په همغه موقف کي یم .

> موږ هیڅکله نه دي ویلي چي داحکومت یومشروع اوقانوني حکومت و، دضرورت په اساس جوړشوي یو حکومت ؤ بله چاره نه وه اونوروته مویلنه ورکوله اوغوښتل مو چي دامحور شي دمذاکري او دروغي جوړي لپاره نور هم راشي په دي کي برخه واخلي اوجګړه پاي ته ورسیږي . سوله تأمین شي اوانتخابات وشي اوس هم زه په همغه موقف کي یم

> اوس خویه دي اوسني بڼه کي دائتلاف همغه دجبل السراج مخکني ائتلاف دي په معمولي تفاوت اوتوپیرسره توپیرداؤ چي هلته په کابل کي کمونستان وو قدرت ئي دکمونستانو دیوي برخي په لاس کي ؤ اودنجیب په خلاف ئي کودتاکړي وه او په هغه ائتلاف کي ددوي فعاله ونډه وه دوي ته ئي هم بلنه ورکړه فقط دومره فرق دي او اوس کابل دطالبانو لاس کي دي

پ : انجنیر صاحب ائتلافونه په افغانستان کي ډیرڅول اویوشمیر خلکو په نظرباندي دانجربه ناکامه تجربه وه ستاسي نظریه دي باب څه دي آیا دانجربه دوباره تکراراوآیا کامیابه وه که نه وه اوکه ناکامه وي ددي بدیل باید په آینده کي څه وي ، اوس هم داائتلافونه دافغانستان دقضیي حل کیدي شي له همدي لاري نه وشي اوکه نه !

ح : بدیل خوصرف همغه دي چي ټول موثرطرفونه په صادقانه اومخلصانه طورمذاکراتوته کیني اواوریند ، سراسري سولي اوډیوه موقت حکومت په جوړیدو باندي توافق وکړي اویه صادقانه طور دي دي حکومت ته قدرت انتقال شي . ددي حکومت تسلط دي په ټول افغانستان ، په ټولو اداري واحدونو اویه ټولو دولتي تاسیساتو کي ومنلي شي او بیادي انتخابات وشي بدیل صرف همدغه دي .

پ : په افغانستان کي یوحل بیا دنژادي ارقومي جګړي اور په بلیدو دي تاسوداخطرات څومره جدي تلقي کوي اودمخنیوي لپاره ئي څه اقدامات اوتداییرونیولي کوي !

ح : ښه به داوي چي وواېو یوحل بیا افغانستان کي دبهرنیو طاقتونو دکشمکش اور په بلیدو دي نه دقومي ، سمتي اوژبني جګړو اورحکه قوم په دي بنیادنه جنګیږي بلکه څه مغرضي حلقي دي چي په دي پوري ترلي بیاهغوي غواړي چي په دي نامه دپردیو لپاره وکړي . جنګ دنورو ترمینځ دي دنورو بهرني طاقتونو ترمینځ په مدار ،مدار دهغوي دلچسپي اوعلاقمندي دافغانستان په هکله زیاتیږي اوغواړي دغسي حلقي پیدا کړي چي ددوي لپاره وجنګیږي او هغوي څه منطق اومجوز دجنګ لپاره نه لري غواړي دي ته قومي ، ژبني او سمتي رنګ ورکړي .

پ : دظاهرشاه مسئله څه ډول مطرح ده اوتاسوئي څومره جدي ګڼئي په دي ورووسته کي حیني تصریحات شوي چي استاذرباني هم دهغه ګډون په شوراکي منلي دي اویه دي باندي ائتلاف کړي !

ح : غربي حلقي په جدي ډول داغواړي چي په افغانستان کي دمجاهدینو په نامه حکومت نه وي، داسلام دخپلو په باره کي بهرني طاقتونه جدي دي داخل کي هم حینو حلقو هغوي ته اطمینان ورکړي جمعیت هم له دي سره په یوترتیب نه په یو ترتیب توافق کړي چي په داسي جبهې کي برخه واخلي .

خویه دي جبهه کي دهغوي دبرخي اخیستلو معني داده چي هغه مطرح شي موږ له جمعیت نه تپوس وکړ دهغوي حواب مبهم دي ، داسي معلومیده چي هغوي غواړي په دي سره امریکا دوکه کړي موږ ویل امریکا دومره ساده نه ده چي دتاسي په براځي اظهاراتو باندي دوکه شي اوزه ګمان نه کوم چي هغوي دوکه کړاي شي تاسي به ځان دوکه کړي .

جمعیت فکر کوي چي کیداي شي په دي ترتیب یوه نوع همدردي یاعلاقه مندي جذب کړي . صداي امریکا اوبي بي سي له لاري هم په خپله ګټه تبلیغات وکړي ، شاید هغوي په دي طمعه دظاهرشاه دراتلوسره توافق ولري خوحقیقت دادي چي په دي سره دوي خپل ځان دوکه کړي .

پ : محترم انجنیرصاحب ! په افغانستان کي دایران درول په باب ستاسي څه نظردي هغوي باید څه ډول نقش ولوبوي حیني حلقي هغوي په افغانستان کي په لاس وهنه باندي هم تورنوي ؟

ح : ایران له وضعیت نه مشوش دي، دطالبانو حرکت دوي ته تشویشونه راولاړکړي دي . ګمان کوي چي داحرکت به دافغانستان په حدوده و کي هم محدود پاتي نشي کیداي شي په مستقبل کي دوي ته مسائل راولاړکړي .

په دي خاطر هغه دجریاناتو سره دلچسپي لري، ایران ته زموږ مشوره داده چي هغوي هرڅه کوي، تیري تجربي تکرارنکړي دافغانستان اجتماعي جوړښت اوواقعیتونه مراعات کړي اوهغوي هم ددغسي یوي پروسي ملاترړوکړي چي ټول طرفونه خپلو مینځونوکي کښیني یوعبوري حکومت جوړ کړي او ورووسته انتخابات وشي .

پ : دروسانو اومرکزي آسیا هیوادونو ورووستي موضعګیري اوتصریحات په افغانستان کي ستاسي له نظره دمداخلي مفهوم اومعني نه ده ؟

ح : هغوي هم تشویش لري اوخپل تشویش ئي پټ هم نه دي ساتلي نه تنها خپل تشویش ئي څرګند کړي بلکه هغه ارخونه ئي په ګوته کړي چي دوي ورسره دلچسپي اوتعاون اراده لري، ترکومه حایه پوري چي موثرمعلومات لرو هغوي له دغوارخونو سره ګومګونه هم کړي .

پ : دمزار دغونډي په هکله ستاسي نظرڅه دي اوتاسي به په کي ګډون وکړي اوکه نه !

ح : موږ تراوسه پوري په دي غونډه کي دګډون فیصله نه ده کړي مکرر غوښتنه شوي ده موږ حواب ورکړي چي تراوسه پوري په دغسي یوغونډه کي په همغه شکل اوکیفیت کي برخي اخیستلواراده نه لرو.

پ : ویل کیږي په دي ورووستیو کي خنجانوکي دوهمه غونډه شوي اودهغوي غړو تنظیمونو دیوحکومت په شکل باندي هم بحث کړي اوتوافق هم شوي چي په هغه کي وزارت دفاع دشمال اداره جنرال دوستم ته سپارل شوي ، حزب اسلامي به په دغه حکومت کي ګډون کوي یانه !

ح : موږبه دغسي یوحکومت کي برخه نه لرو او داحکومت دمسئلي حل هم نه دي، عملي هم نه دي، څوك چي ددي تصور کوي چي داسي حکومت به په افغانستان کي تحمیل کړي شي اشتباه کوي

پ : دافیصله هم شوي چي مزار به موقتاً ددي اداري مرکز وي آیا دا دتجزیي معني نه لري !

ح : متاسفانه جمعیت ځان ډیر مضطر ګڼي اویه همدي وجه ئي هرنوع شرایطوته غاړي اېښیدوفیصله کړي اوګمان کوم داضطرار په حالت کي دغسي فیصلي کول چي دهغه عواقب هم سړي ونه سنجوي دابه دسیاسي انتحار معني لري .

جمعیت له خپله طرفه دافیصله کړي ده

> دمسئلي حل صرف همدا دي نه داچي یویه دي بهرني قوت تکیه وکړي اودهغه دوسلو په زور باندي کابل اشغال کړي او بیا افغانستان دحکومت کولو اوحریفانودټکولو خوبونه وګوري اویل په هغه ائتلافونه چي دغسي دپردیو په اشاره جوړیږي او پردیو مرستوباندي متکي وي هغه دافغانستان مسئله نشي حل کولي

زموږ نمایندګي نشي کولي .

پ : ستاسي او استاد سیاف مرتبه دواړي قضایاوویه باب مشترکه ده اوکه څنګه ؟

ح : ترډیره حده پوري زموږ اودهغوي موضع یوه ده ، دریځ یودي، موږ داستاد رباني سره هم اختلاف نه لرو داسي هم نه ده چي موږ دسابقه دولت انحلال اعلان کړي خودوي چي په عجلي سره ، په ډیروارخطائي سره دمزار اودخنجانو په مذاکراتو کي برخه اخیستي ددغسي یوجبهي یادحکومت دجوړولو فیصلي کړي په دي باب موږ له هغوي سره تشوتلاي واقعیت دادي خپله فیصله به ورووسته کوو

پاتي ۳۰ ، مخ ۷۰ ، متن

ازفراز منبر

تشکل جدید فکر اسلامی

پیوسته به گذشته :

به عبارت دیگر در اجتهاد مطلق رهنمای اصلی روح اسلام ودراجتهاد مقید رهنمای اصلی نظیروشبیه عملی گذشته می باشد .

یك مثال اجتهاد مطلق مسئله حرمت خروج ازاطاعت حکومت وقت است که برای آن قبل از واقعه کربلا درتاریخ اسلام واقعه مماثل باآن نمی توان سراغ کرد، چنانچه فتوایکه علمابطور اتفاقی درمورد حرمت خروج از اطاعت حکومت قایم شدهٔ خواه ظالم باشد داده یك مثال تاریخی اجتهاد مطلق است که درآن فقط روح اسلام رارهنما قرارداده یك موقف عملی پیش گرفته اند. علامه ابن کثیر درمورد حضرت حسین ویزید بحث نموده می نویسد : یزید گرچه یك امام وزعیم فاسق بود، لاکن امام اگر فاسق باشد محض به اساس فسق اورانمی توان معزول کرد، بلکه مطابق قول صحیح علما بغاوت وخروج ازوی نیز جایز نیست زیرا درنتیجه بغاوت ، فساد، ناآرامی، خون ریزی، چوروچپاول ، آبروریزی وعصمت دری زنان وواقعاتی ازین قبیل رونما خواهد شد که زشتی وبدی هرکدام به مراتب بیشتر ازفسق وفجورامام است . عبارت عربی ابن کثیر ازین قرار است : والامام اذافسق لایعزل بمجرد فسقه علی اصح قولی العلماء بل ولایجوزالخروج علیه لمافی ذلك من اثارة الفتنة ووقوع الهرج وسفك الدمار الحرام ونهب الاموال وفعل الفواحش مع النساء وغیرهن وغیرذلك مماکل واحده فیهامن الفساد اضعاف فسقه کماجری مماتقدم الی یومناهذا (البدایه والنهایه لابن کثیر)

درحدیث شریف ازیکطرف اظهارکلمه حق به حضور امام جابر وظالم جهاد افضل قلمداد گردیده ، وچنین مجاهد اگر ازطرف امام قتل گردد افضل الشهدا محسوب می گردد، درهمچو حالت فتوای حرمت خروج ازامام فاسق به ظاهر باحدیث مذکور متصادم ومتعارض واقع می شود، درحالیکه چنین نیست .

اصلاً دراینجا علما روح دایمی اسلام را رهنما قرار داده چنین اجتهاد نموده اند و آن اینست که درمعاملات اجتماعی اصلاً عنصرفیصله کن اینست که دیده شود درنتیجه اقدام تناسب منفعت ومضرت چیست ، اگرمضرت عملی نسبت به فایده آن بیشتر باشد باوجود جایز بودن ، آن عمل ناجایز قرارمی گیرد، این اصل درمعاملات انفرادی نیز ملحوظ داشته می شود مثلاً یك سبب حرمت شراب وقمار اینست که ضرر آنهانسبت به مفاد آن هابیشتر است لاکن دراموراجتماعی این اصل به شدت قابل تطبیق است . این اصل رادراصول فقه بنام « ترك المصلحة للمفسدة » یاد می کنند .

برای توضیح اجتهاد مقید می توان استعانت ازکفار یاموالات با غیرمسلمان ها را بطور مثال پیش کرد. دراوایل این قرن زمانیکه علمای هند بخاطر موثر نمودن تحریك آزادی هند به کانگرس شامل شدند تاکه مسلمانان وهندوان متحد گردیده علیه انگلیس ها مبارزه نمایند، درآن زمان یك طبقه براین موقف علما سخت انتقاد نموده حتی درین مورد فتوای کفر هم صادرشد .

این علما بطرف آن آیه کریمه نظردوخته بودند که طی آن مسلمانان ازدوستی وموالات باکفار منع گردیده اند، بدون شك علما ودانشمندانی که موالات باکفاررا فتوی دادند ازین آیه کریمه بی خبرنبودند لاکن آنهابطرف یك مثال عملی عهد پیامبر علیه السلام نگاه نموده درروشنی آن چنین اجتهاد نموده فتوی دادند .

زمانیکه مشرکین مکه فیصله نمودند که پیامبر علیه السلام رابقتل می رسانند، آنحضرت بحکم خداوند قصد وتیاری هجرت نمود، درین رابطه یك واقعه درکتب سیرت به روایت قابل اعتماد سراغ می گردد که پیامبر علیه السلام بایك کسی که درمورد شناخت راه های صحرائی مهارت داشت رابطه استوار نمود تابتواند به کمك ورهنمائی اویك راه مخفی، کوتاه وآسانی را دریابد که هنگام سفر به مدینه از آن استفاده نماید این شخص که عبدالله بن اریقط نام داشت یك شخص مشرك بود وبه این ترتیب این واقعه یك مثال خوبی ازاستعانت بالکافررا فراهم می کند .

علمای مابراساس این نظیرعملی قیاس نموده درباب تعاون باغیرمسلمانان بدون شك فیصله درست صادرکردند . اما تاجاییکه به آیه کریمه فوق مربوط می شود، آیه مذکوردرباب کفاروغیرمسلمانانی است که نه تنها بااسلام دشمن باشند بلکه عملاً برضد اسلام سرجنگ داشته باشند. باهمچوکفاروغیرمسلمانان دوستی، موالات وتعاون به معنی خیانت وغداری بااسلام است که بدون کدام اختلاف حرام وممنوع می باشد .

(ادامه دارد)

اقامت صلوة وصلوة وسطی

بخاطرفایده گرفتن ازقرآنکریم ضروری است که انسان بعداز ایمان آوردن فوراً برای اطاعت عملی آماده شود وبرای اطاعت عملی علامت دائمی نماز است بعدازاینکه چند ساعت برایمان آوردن میگذرد مؤذن برای ادای اولین نماز طلب می نماید، ودرآن وقت فیصله میشود آیاکسیکه دعوای ایمان را میکرد برای ادای نماز حاضر است یاخیر، بازهمین مؤذن روزانه پنج وقت برای نماز ندا میکند ، ووقتیکه انسان برای ندای آن لبیك نگوید، درآن وقت ظاهرمیشود که مدعی از اطاعت خارج شده . درحقیقت ترك نماز ترك اطاعت است .

حقیقت اینست که اگرکسی خواهان هدایت نباشد ، برای او هدایت دادن ونادادن یکسان است، اقامت الصلوة یك اصطلاح جامع است معنی آن اینست که انسان باید با پابندی نماز را ادا کند . ودرضمن بطور اجتماعی نظام نمازباید قایم گردد ، اگر دریك ده یك شخص بطور انفرادی پابند نماز باشد، لیکن اهتمام ادای نماز با جماعت نباشد ، لهذا گفته نمیتوانیم که در آنجا نماز ادا میکنند.

صلوة الوسطی : مراد ازصلوة وسطی جامع محاسن صلوة ، بعضی مفسرین نمازصبح راگرفته اند بعضی هاظهر، بعضی ها مغرب وبعضی ها عشا رالیکن یکی ازین اقوال ازپیامبر (ص) منقول نیست صرف تأویل اهل استنباط است اقوال زیاد درحق نماز عصرآمده ومیگویند پیامبر (ص) این نماز را صلوة وسطی قرار داده ، معنی وسطی چیزیبخ دار یاریشه دار هم است وآنچیز که اعلی و اشراف باشد .

مراد ازصلوة وسطی ریشه نماز هم شده می تواند واین قسم نماز که دروقت معین بخوانی باخشوع وخضوع باتوجه به الله ، وآنطور نماز که همه خوبی های نماز درآن موجود باشد فقره بعد که

بهره وری ازدیدگاه اسلام

سود وزیان :

زیان واقعی انسان درسودای زندگی آنجا است که آدمی عمرخویش ولحظه ، لحظه های آن راکه همان امتداد جان وحیات اواست صرفاً برای مقاصد مادی ودستیابی به مال وثروت وسود صرف کند واین همان چیزی است که غرب مادیگرا آن راهدف وتجلی بهره وری می داند. قرآن کریم می فرماید :« ان الخاسرین الذین خسروا انفسهم » ، همانازیانکاران واقعی آنانند که خویشتن راخود درصحنه زندگی ببازند، درحالی که دربازار دنیا بهره وری وسود واقعی د رسودائی است که مشتری آن خدا است وجان وعمربرای اوصرف شود وثمن آن جنت است :« ان الله اشتری من المومنین انفسهم واموالهم بان لهم الجنة »

واین قرآن است که بشر رابه تجارتی که دارای سود واقعی است دلالت می کند، آنجا که می فرماید: قل هل ادلکم علی تجارة تنجیکم من عذاب الیم تومنون بالله ورسوله وتجاهدون فی سبیل الله باموالکم وانفسکم ذلکم خیرلکم ان کنتم تعلمون . بگو آیا شمارا به تجارتی که ازعذاب دردناك نجات تان دهد دلالت کنم ، ایمان به خدا آورید ودرراه اوبامال وجان جهاد کنید این برای شما بهتراست اگربدانید .

پس بهره ورترین انسانها کسانی هستند که باحداکثر بهره گیری ازلحظه ، لحظه های عمروسرمایه جان ومال خویش بیشترین وجاودانه ترین سود رابدست آوردند ودراین میان شهداباایثار تمام هستی خویش راهی راکه دیگران بایك عمرعبادت وعبودیت می پیمایند درچند لحه طی می کنند وبه بالاترین مرتبت کمال دست یافته وبیشترین بهره دهی را برای انسان ها به ارمغان می آورند .

کارخوب یاخوب تر :

قرآن فلسفه آمدن ورفتن ومرگ وزندگی انسان را چنین می داند :

« هوالذی خلق الموت والحیوة لیبلوکم ایکم احسن عملاً »

اواست که مرگ وزندگی را آفرید تاشمارا بیازماید کدام تان به کارنیکو تر آراسته می شوید« درایه دیگرباشاره به ابزار آزمون می فرماید : « انا جعلنا ماعلی الارض زینة لها لنبلوهم ایهم احسن وعملاً »

ماآنچه را درروی زمین است زینت آن قراردادیم تا آنهارا بیازماییم که کدام شان بهتر عمل می کنند .

درمورد سخن گفتن نیز می فرماید: قل لعبادی یقولوا التی هی احسن

به بندگانم بگو سخنی بگویند که بهترین باشد .

ونیز درمورد پیروی ازشنیده هامی فرماید : فبشرعبادالذین یستعمون القول فیتبعون احسنه ، پس بندگان مرابشارت ده ، همان کسانی راکه سخنان رامی شنوند و ازنیکوترین آن پیروی می کنند . ودرمقام برخورد بابدی می فرماید : « لاتستوی الحسنة ولاالسیئه ادفع بالتی هی احسن »

هرگز نیکی وبدی یکسان نیست ، بدی رابانیکی دفع کن .

(روبه سوی خدا وند(ج) مثل بنده های فرمانبردار ایستاده شو) خودهمین راتفسیرمیکند .

ترجمه ازنورالامین

